# د خوشحال بابا په کلام کښې د امن تصور

ډاکټر قدر واحد (سمندر یوسفزی)*


## Abstract:

Khushal Khan Khattak as he said himself "I have taken up the sword to defend the pride of the Afghan" indicates that he has been forced by the situation to hand the sword and fought successive wars. In such way his poetry postulates and preaches for taking up sword for the cause and that why we found nothing but abundance of war-related terminologies and imagery in the fool of his poetry. Apart from that very perspective the world remembers and depicts him as a fighter and warrior on the basis of his verses, he has been a great preacher of peace and amity that could be found easily in the life span motto of Khushal Khan Khattak clearly. On the basis of Numbers of approaches in his poetry could not negate the reality of branded warrior but he has also been found a realist, a great advocate of peace and amity as well. This paper is an academic endeavor to highlight the peaceful thoughts of Khushal Khan Khattak which have not been introduced in the light of authentic and reliable source.


انسانان په دنیا کښې په مختلفو صورتونو ژوند تېروي، د ښۀ ژوند په لټون کښې هر انسان تر خپله وسه او تر خپله حده بوخت وي. د خپلو ضروریاتو او خواهشاتو د تکمیل د پاره مختلفې وسیلې او حربې استعمالوي. کله کله د خپله لاسه د خپلو خواهشاتو د تکمیل په لړ کښې په جنګونو لاس پورې کړي او دنیا اور ته واچوي. چونکې جنګونه بربادي راولي او د نفرتونو تخمونه کري ځکه نو جنګونه نړۍ په شا بیایي، خو په ناګزېرو حالاتو کښې د جنګ د اهمیت او ارزښت نه انکار نۀ شي کېدی مګر بیا هم باید چې انسانان خبره تر دې حده و نۀ رسوي چې جنګونه وشي، د دنیا تاریخ د جنګونو د دغه قسمه واقعاتو نه ډک دی، په هر دور کښې دنیا ته د امن ضرورت پېښ شوی دی ځکه چې د جنګ ضد امن دی.

"**Peace** occurs between heterogeneous social groups and is characterized by a lack of conflict and freedom from fear of violence. Commonly understood as the absence of hostility, peace often involves compromise, and therefore is initiated with thoughtful listening and communication to enhance and create mutual understanding. Peace can be defined in a positive direction and in a negative sense. Positively, peace is a state of tranquility and stillness; however, in a negative sense, peace is the absence of war or violence"(1).

---

*Lecturer, Dept. of Pashto, University of Malakand KPK.

ژباړه: امن د دوو مخالفو ډلو تر مینځه هله پیدا کېږي چې کله پکښې د اختلاف کمی او د تشدد له ویري نه د ازادۍ خاصیت وي. په عامه توګه دا خبره منلې شوې ده چې د تاؤ تریخوالي په غېر موجودګۍ کښې په کمپرومائیز کښې د امن مداخلت وي ځکه نو د ګټورو خبرو اترو دا پاره لاره هوارېږي او دوه اړخیزه رضامندي وده مومي. امن په مثبت او منفي دواړو طریقو بیان شوی دی . په مثبته توګه امن د خوشحالۍ او سوکالۍ یو حالت دی او په منفي توګه امن د جنګ او تشدد غېر موجودګي ده.

دنیا ته د جدید جمهوري نظام راتلو نه وړاندې اقتدار حاصلول بغېر د جنګ کولو نه ممکن نۀ وو او د وړې نه وړې عهدې نه واخله تر لوئې پورې عهده حا صلول د تورې او جنګ متقاضي وه ځکه نو د هندوستان خواؤشا ټول سلطنتونه او بادشاهتونه د تورې په زور قایم شوي دي . د هندوستان په خاوره د اقتدار په لړ کښې د جنګونو په معامله کښې پښتانۀ هم په دغه نا ګزیره ګناه کښې ککړ وو نور خو پرېږده د پښتون قام یو داسې فرهنګیالی خوشحال خان خټک هم په دغه عمل کښې پېش پېش وو چې نړۍ ئې د یو شاعر په حېث پېژني. د یو شاعر په حېث د هغه د نوم سره د جنګجو توری ښۀ نۀ لګي ځکه چې جنګ یو حیواني صفت دی. او بیا په تېره تېره خوشحال خان خټک په انسانانو کښې پوهه انسان ؤ او بیا هم په هغه د یو جنګجو ټاپه لګېدلي ده په هغه د جنګجو ټاپه هسې نۀ ده لګېدلي بلکې په عملي توګه په د غه غېر انساني عمل کښې ډېر ځله شامل شوی ؤ. د خوشحال په جنګونو کښې د شریکېدلو وجوهات وو. هغه په یوه داسې سیاسي کورنۍ او داسې وخت کښې پیدا وو چې سیاست پکښې د تورې، زور او طاقت په ژبه کېدو هغه ته که یو خوا پلار قلم په لاس کښې ورکړې ؤ نو بل خوا ئې توره هم ورکړې وه د هغه د یو جنګجو په توګه د پېژندګلو په شا د هغه وخت مخصوص سیاسي حالات وو چې هغه ئې په توره راخستو مجبوره کړې وو ګنې حقیقت ددې برعکس وو. هغه غوښتل چې د سیاست او ریاست کار باید اول د قانون او شریعت په دائره کښې په نرمۍ سر ته ورسې او که په نرمۍ نۀ کېږي نو بیا جنګیالو او ننګیالو له تورې راخستل پکار دي. او که د خپل مقصد په حا صلولو کښې که تمامه لار په وینو خړوبه شي نو پروا نۀ شته.

تر مطلوبه پورې شرط د رسېدو دی
که تمامه لار په وینو شي الوده"(2)

که ته غواړې له اسمانه جبرائیل شی په دا ځۀ شي
خون رجاء راؤړه اې جانه کار د تورې یا د شخوند دی
څوک چې علم ریاست کا سیاست دي کا په شرعه
اوس لا بلکه خلق بد شه په توره عمل هم سند دی"(3)

سربازي يا د پتنګ يا د عاشق ده
يا قسمت د مجاهد يا د سپاهي شوه"(4)

يا د ليچو زور پکار دی يا د زړو
خوار هغه شو چې په دواړو وي کمزوری"(5)

څو وانخلي له غليمه انتقام
مرد نهٔ خوب که نهٔ خوراک که نهٔ ارام
چې د ننګ او د ناموس اندوه ئې نهٔ وي
د هغه سړي به نهٔ وي احترام"(6)

خوشحال خان خټک يوازې دا نهٔ چې د خپل مطلب په رسيدو کښې د تورې د استعمال په حق کښې دی بلکې هغه د غليم يعني دښمن په چالونو د پوهېدو درس هم ورکوي چونکې جنګونه اکثر د ټولنيزو مفاداتو په خاطر کېږي که مفادات بغېر د جنګ نه حاصلېدی شي نو بيا جنګ کولو ته څهٔ حاجت دی ځکه نو ټوله ذمه واري د يو حکمران په سر وي بائد چې حکمران د وخت او حالاتو په نبٔض پوه وي۔

"ایک حکمران کو اپنے اندر شیر اور لومڑی کی خصوصیات یکجا کرنی چاہئیں۔ کیونکہ شیر اپنے آپ کو کبھی پھندوں اور جالوں سے محفوظ رکھنے کا گر نہیں جانتا جبکہ لومڑی اپنا تحفظ بھیڑیوں سے نہیں کر سکتی۔ اسلئے ایک حکمران میں لومڑی کی یہ خوبی چاہئے کہ وہ پھندوں اور سازشوں کو بھانپ سکے۔ اور دوسری خوبی حکمران میں شیر کی ہونی چاہئے کہ وہ بھیڑیوں کو خوفزدہ کر سکے۔ وہ حکمران جو صرف اپنے آپ کو شیر بنانا چاہتے ہیں وہ محفوظ نہیں رہ سکتے۔ ان کے لئے لومڑی کی چالاکی اور فریب کاری بھی ضروری ہے۔"(7).

ځکه خو خوشحال خان خټک وائې

د غليم مهر په هيچا باندې نهٔ وي
يو فساد ورباندې کاندي چې شفيق شه"(8)

يو هغه سړی احمق بللی بويه
چې باور کا د غليم په سوګندونو"(9)

خوار هغه چې د غليم په نغوته درومي
مدعي غليم د نيکو نصيحت کا"(10)

درد د زړهٔ پنهان ساته که وينې دې ځيګر شي
مه وايه دښمن ته که دې دم خيژي اسرار خپل"(11)

د غلیم سره به نهٔ کا مګر دروه
مګر ډېر تر بلا تېر په عقل پوه"(12)

ضرب المثل دی د دانایانو
دښمن چې دوست کړی دوست دی غلیم شي"(13)

چې د دوست سره دي دوست دی هغه دوست دی
چې د دوست سره دښمن هغه دښمن"(14)

خوشحال خان خټک د اقتدار او سیاسي معاملاتو په لاره کښې د هر قسمه خنډانو لري کولو په لړ کښې د سپینو تورو د بریښنا پلوي دی. د هغه مقصد تر مطلوبه رسېدل دي هغه په عملي توګه په دغه قسمه عمل کښې ټول عمر مصروفه پاتې شوی دی د هغه دغه مصروفتیا د هغه وخت ضرورت وو ګني فطرتاً داسې نهٔ وو

"بنیادی طور پر وہ ایک شاعر کی طرح امن پسند اور انسان دوست تھا۔ حالات کے تھپیڑوں نے کبھی اُسے سنبھلنے نہیں دیا۔ اس کے سامنے ہمیشہ دو رستے کھلے رہے کہ یا تو بزدلوں کی طرح بہانے تراش کر جنگ سے بچنے کے لئے ذلت اُٹھا کر زندگی گزارے اور یا نتائج سے بے نیاز ہو کر اللہ کے بھروسے اپنی عزت نفس کی حفاظت کے لئے تلوار سنبھالے۔ اُس نے ھمیشہ دوسرے رستے کو اپنایا"(15).

خو د دغه هر څهٔ باوجود خوشحال خان خټک په فکري توګه د امن په حق کښې دی دغه عملي جنګونه د وخت ضرورت ؤ مګر فطرتاً هغه امن پسند سړی ؤ د هغه په تحریر کښې ډېر ځله په امن او صلحې زور ورکړی شوی هغه د غني خان خبره په خوشحال خان خټک سمه صادرېږي

" پښتون که هر څو دننه پوست او د مینې ډک زړهٔ لري، خو په خپلو برندو او نېغو سترګو ئې دغه زړهٔ له دنیا څخه پټ کړی وي"(16).

خوشحال خان خټک هم خپل پوست او نرم زړهٔ د دنیا نه په برندو او نېغو سترګو پټ کړی ؤ او د وخت او سیاسي حالاتو له کبله ئې تورې وهلې دي ډاکټر اقبال نسیم خټک د خوشحال د امن پسندۍ په حواله لیکي.

"خوشحال نیکه فطرتاً یو صلح جو او امن پسند بنده وو. هغه انساني وینه بلا جواز تویول جرم ګڼل. دا بیله خبره ده چې کله کله د امن قائمولو او انتظامي امورو د هوارتیا دپاره حکمرانانو ته د طاقت د استعمال نه بغیر بله لاره پاتې نهٔ شي. خوشحال نیکهٔ به د جنګ نه سخت نفرت کولو"(17).

د خوشحال د فکر نه اندازه لګي چې هغه امن پسند ؤ ځکه چې هغه د جنګ په ځای د صلحې تلقین کوي چې کله دښمن د جنګ په ځای صلحې له ترجیح ورکوي. د هغه په نزد د انتقام اخستو

په ځائې معافي غوره ده. جنګ د مسئلې حل نهٔ وي، چې څوک هم هوښیار وي هغه که په خوله هر څو د جنګ لافې کوي خو په زړهٔ کښې د امن دپاره ځای لري.

هوښیار غلیم به په خوله جنګ غواړي
ډېر به تر جنګ په اشتیٰ ویاړي"(18)

غلیم هوښیار ښهٔ دی که مرګ دي غواړي
ډېر به تر جنګه په اشتیٰ ویاړي"(19)

څوک چې اشتي غواړي که دي غلیم دی
"والصلح خېر" ځائې د تسلیم دی
عفوه بهتر تر انتقامه ده
نیکي په بدو کار د کریم دی"(20)

خوشحال خان خټک یوازې په خپل منظوم کلام کښې د امن او صلحې ذکر نهٔ کوي بلکې په خپل منثور لیک کښې هم د امن صلحې او جنګ نه د ډډې کولو تلقین کوي چې د هغه په امن پسندۍ دلالت کوي

" سردار لره بویه چې که امکان د صلحې وي تلاش دي د صلحې کا. په ظاهر دي لافې د جنګ وهي په باطن دي صلح له خدایه په دعا غواړي خېر، خېریت، تصدقات، انعام، بخشش، پخول، ورکول دي په دا وخت لاډېر کا. بډې، رشوت د غلیم و وکیل، و وزیر دي هم تقصیر نهٔ کا، شاید چې په څهٔ انواع خېریت، عاقیت په دواړه لوریه کښې پېدا شي. چې الصلح خیر (ترجمه: په صلح کښې خېر دی) "(21).

چې په ګوړه مري نو زهرو ته څهٔ حاجت دی. یوه خبره چې په خبرو حل کیږي، نو توري راخستو ته هیڅ ضرورت نهٔ شته. ځکه چې جنګ بربادي راولي او صلحه آبادي راولي. خوشحال خان خټک که هر څو د جنګ او شجاعت داسې تبلیغ کوي چې د سړي جنګ کولو ته زړهٔ کوي. مګر ددې هر څهٔ باوجود د امن په معنیٰ پوهه دی. د امن او صلحې لاره غوره او د خېر ګڼي.

سردار د عفو وکرم څښتن ښهٔ دی
د جنګ تر کاره په آشتي مئین ښهٔ دی
ډېر هنرونه د سردارۍ دي
چې واړه تېر شي تېغ مبرهن ښهٔ دی"(22)

خوشحال که یو خوا یو سردار د جنګ د نقصاناتو او امن او صلحې د خبر نه خبروي نو بل خوا یو سردار ته د امن او صلحې د پاره د دروازو پرانستو پرېښودلو تلقین هم کوي ځکه چې هوښیاران په جنګ کښې دې حد ته نۀ رسي چې د روغې جوړې ممکنات ختم کړي . د حضرت علي صښب هم په دغه حواله مشهور قول دی

"دشمن کی دشمنی بس ایک حد میں رکھو ہو سکتا ہے کہ کسی دن وہ تمہارہ دوست ہو جائے"(23).

په دغه حواله د خوشحال خپل منظوم افکار داسې وړاندې کوي

له چا چې جنګ کړی روغه په زړۀ لره
هوښیار په جنګ کښې د روغې ځائې پرېږدي"(24)

مردان نن جنګ کا اشتي سبا کا
چې سره کیني صلح و صفا کا"(25)

خوشحال خان خټک په یو صورت کښې هم جنګ په روغه جوړه مقدم نۀ ګڼي بلکې د هغه په نزد هغه خلق هوښیار وي چې جنګونه په صلحې بدلوي او کوم خلق چې په زور ځانله جنګونه ګوري هغه نادانان ګڼي:

هوښیار هغه دی چې سخت جنګونه
تر اخره راولي په فرهنګونه
نادان هغه دی چې په وخت د صلح
ګډ کا د شر و فساد رنګونه"(26)

خوشحال خان خټک په هر هغه صورت کښې جنګ نۀ خوښوي کله چې یو کار په صلح او نرمۍ تر سره کېږي په دغه حواله د هغه دا منظوم خیالات د هغه د امن پسندۍ په حواله کره او پوره دي-

کله جنګ وته هوس کا
چې اشتي مومي بشیر
چې په صلح کښې روزګار شي
څه حاجت د تېغ و تیر"(27)

هغه کار چې په نرمۍ تر سره کیږي
څه حاجت چې رسوه شه تر جنګونه"(28)

خوشحال خان ختک د وخت او حالاتو له وجې په توره راخیستو مجبوره شوی ؤ او په عملي توګه په یو شمېر جنګونو کښې شامل شوی ؤ ځکه نو د هغه په افکارو کښې د جنګ تلقین،جنګي اصطلاحات او استعارات په بشپړه توګه په نظر راځي ددغه قسمه خیالاتو په سوب هغه نړۍ د یو جنګجو په توګه پېژني مګر ددغه سیاسي حالاتو نه پرته هغه په فکري توګه یو امن پسند او د روغې جوړې پلوي په نظر راځي د هغه یو شمېر منظوم او منثور افکار د بې ضرورته جنګ کولو غندنه کوي او د روغې جوړې تلقین هم کوي د هغه دغه قسمه خیالات په هغه محض یوازې د یو جنګجو ټاپې لګېدلو نفې نۀ کوي بلکې د هغه په امن پسندۍاو معامله بندۍ دلالت هم کوي.

❁❁❁

# حوالې

(1) https://en.wikipedia.org/wiki/Peace,30/05/2016,pst10:45am.

(2) ختک، خوشحال خان، کلیات، مرتبه دوست محمد خان کامل مومند، ادره اشاعت سرحد پېښور، دویم ځل، ۱۹۶۰مخ ۵۹

(2) ایضاً، مخ ۳۷۶

(3) ایضاً، مخ ۳۰۲

(4) ایضاً، مخ ۴۶۹

(5) ایضاً، مخ ۵۵۴

(6) ستار طاہر، دنیا کی سو عظیم کتابیں، کاروان ادب ملتان صدر، 2004ء، ص:413،414

(7) ختک، خوشحال خان، کلیات، مرتبه دوست محمد خان کامل مومند، مخ ۳۰۵

(8) ایضاً، مخ ۸۶۲

(9) ایضاً، مخ ۲۶

(10) ایضاً، مخ ۱۷۹

(11) ایضاً، مخ ۲۸۹

(12) ایضاً، مخ ۷۵۰

(13) ایضاً، مخ ۹۱۱

(14) پریشان خٹک، پروفیسر، پشتون کون؟ پشتو اکیڈمی پشاور یونیورسٹی، اشاعت دوم، 2005، ص369

(15) خان، عبدالغني، پښتون، ژباړه، حیات روغانے، اولسي قامي ګوند .anp) ریاض سعودي، ۲۰۰۸، مخونه۲۴، ۲۶

(16) ختک، ایم اقبال نسیم، پروفیسر ډاکټر، د تاند او بهاند تخیل شاعر، پښتو اکېډیمي کوټه، ۲۰۱۴ء، مخ ۵۵۲

(17) ختک، خوشحال خان، کلیات، مرتبه دوست محمد خان کامل مومند، مخ ۸۱۲

(18) ایضاً، مخ ۷۸۷

(19) ایضاً، مخ ۷۵۸

(20) ختک، خوشحال خان، دستار نامه، تحقیق، سمونه او حاشې، پروفېسر یار محمد مغموم ختک، مخ۷۳

(22) ایضاً، مخ ۷۸۱

(23) ستار طاہر، دنیا کی سو عظیم کتابیں، ص:218
(24) ایضاً، مخ ۷۴۶
(25) ایضاً، مخ ۶۳۴
(26) ایضاً، مخ ۶۹۴
(27) ختک، خوشحال خان، کلیات، مرتبه دوست محمد خان کامل مومند، مخ ۸۶۱
(28) ایضاً، مخ ۵۹۲